# سوالات پشتو  صنف نهم امتحان دوره دهم

**د نهم ټولګۍ د پښتو سوالاونه**

1. اسلام د نشه يي توکو په اړه څه حکم لري؟
الف) جواز لري  ب) مکروه دي  ج) حرام دي  د) واجب دي
2. د حکومت دريځ د نشه يي توکو په هکله څه دی؟
الف) تشويق کوي  ب) بې‌طرفه دی  ج) منع کوي او سزا لري  د) هېڅ قانون نه لري
3. د سګرټ/ نشه يي توکو له امله کومې روغتيايي ستونزې يادې شوې؟
الف) قد ډېروي  ب) سترګې روښانه کوي  ج) زړه او سږو ته زيان رسوي  د) اشتها ډېروي
4. د نشه يي توکو يو ټولنيز تاوان کوم دی؟
الف) کورنۍ او اقتصاد پياوړی کوي  ب) ورزش ته لېوالتيا زياتوي  ج) جرم او بې‌نظمۍ ډېرېږي  د) ښوونه ښه کېږي
5. په متن کې سګرټ څنګه معرفي شوی؟.
الف) تازه مېوه  ب) درملنه  ج) نشه او زيانمنه ماده  د) سپورتي توکی
6. د نشې د پيل يو عام علت کوم ياد شوی؟.
الف) د ملګرو فشار  ب) سفر  ج) زوکړه  د) موسيقي
7. نشه يي توکي د انسان په عقل او فکر څه اغېز کوي؟.
الف) پياوړی کوي  ب) هېڅ اغېز نه لري  ج) کمزوري او مغشوشوي کوي  د) ژر زده کړې ته مرسته کوي
8. د نشه کارول د ځوان د راتلونکي سره څه کوي؟.
الف) تعليم او کار ته زيان رسوي  ب) بورسونه زياتوي  ج) کورنۍ خوشاله کوي  د) سپورتي بريا زياتوي
9. د نشه يي توکو د مخنيوي اغېزمنه لاره کومه ده؟.
الف) د کورنۍ او ټولنې پوهاوی او هوډ  ب) قمار  ج) له درس څخه تښته  د) لوړ غږ موسيقي
10. پټه خزانه څه شی دی؟.
الف) مجله  ب) قاموس  ج) د پښتو ادب لرغونی کتاب  د) د طب کتاب
11. د پټې خزانې ليکوال څوک دی؟.
الف) خوشحال خان خټک  ب) رحمان بابا  ج) محمد هوتک  د) ابن سينا
12. د «پټه خزانه» نوم څه معنا لري؟.
الف) سپينه پاڼه  ب) پټ شوی ګنج/خزانه  ج) لوېديځ لمر  د) ماښامۍ
13. پټه کتاب د کومې دورې له فرهنګي فضا سره تړاو لري؟.
الف) اوسنی عصر  ب) هوتکي دوره/دولسمه هجري پېړۍ  ج) منځنۍ اسيايي يرغلونه  د) صنعتي انقلاب
14. پټه خزانه په اصل کې د څه په اړه معلومات راټولوي؟.
الف) رياضي  ب) طبيعي علوم  ج) پښتو ادبي تاريخ او شاعرانو پېژندنه  د) جغرافيه
15. د پټې خزانې ارزښت څنګه بيان شوی؟.
الف) بې ارزښته دی  ب) د ماشومانو کيسه ده  ج) د پښتو فرهنګ يوه مهمه سرچينه ده  د) طنزي رساله ده
16. پټه خزانه له کومې ژبې او ادب سره تړاو لري؟.
الف) فارسي  ب) عربي  ج) اردو  د) پښتو ژبه او ادب
17. د سور ترافيکي څراغ معنا څه ده؟.
الف) تېر شه ب) ورو څه ج) ودرېږه  د) ښي لور ته تاو شه
18. شين څراغ معنا څه ده؟
الف) ودرېږه  ب) تېر شه  ج) خطر  د) بېرته واوښت شه
19. د زيړ څراغ نښه څه ده؟.
الف) د احتياط/چمتووالي نښه  ب) د خطر پای  ج) د پارک اجازه  د) د باران خبر
20. د پلي تېرېدو تر ټولو خوندي ځای کوم دی؟.
الف) د سرک منځ ب) زيبرا کراسينګ/د پلي تګ ځای  ج) د څلور لارې منځ  د) د بس مخې ته
21. کله چي سرک ته اوځو، لومړی څه بايد وکړو؟.
الف) منډه ووهو  ب) دواړو خواؤ ته وګورو  ج) سترګې پټې کړو  د) د موټرو هارن ته غوږ ونيسو
22. د پوليس لاس اشارې او د ترافيک قانون مراعات څه معنا لري؟.
الف) شخصي خوښه ده  ب) د خوندي تګ راتګ او د قانون اطاعت  ج) يوازې د چلوونکي لپاره اړين دي  د) بې‌اړخه کار دی
23. د موټر چلولو پر مهال کومه وسيله د خونديتوب لپاره کارېږي؟.
الف) موبايل ب) سيټ بيلټ  ج) لوړ غږ موسيقي  د) بې موزې ناستې

# سوالات پشتو  صنف نهم امتحان دوره دهم

24. د موټرسایکل چلوونکي لپاره لازمي شی کوم دی؟
الف) دستکول   ب) خولۍ/هلم   ج) لاسي ساعت   د) چترۍ

25. د ترافیک قوانینو مراعات کومه ګټه لري؟
الف) ستونزې ډېرې کوي   ب) یواځې جرمانه کموي   ج) د خلکو ژوند او شتمني خوندي کوي   د) هېڅ اغېز نه لر

26. ماینونه عموماً څه پایله لري؟
الف) تفریح   ب) روغتیا زیاتوي   ج) مرګ او معلولیت/ژوبله
د) د کورونو ښکلا

27. د ماینونو دوه اساسي ډوله کوم دي؟
الف) د اوبو او اور ماینونه   ب) د پرسونل ضد او د وسایطو ضد   ج) د ښکار او کرنې ماینونه   د) برقي او لیزري

28. د پرسونل ضد ماینونه عموماً په څه فعالېږي؟
الف) د درنې وسیلې وزن   ب) د لږ فشار یا تار کشولو سره
ج) د باران له اوبو د) د لمر له تودوخې

29. د وسایطو ضد ماینونو هدف کوم دی؟
الف) د مرغانو ښکار   ب) د انسان د ټپي کولو   ج) د موټرو/ټانکونو له منځه وړل   د) کرنیز کارونه

30. که په کومه سیمه کې د ماین شک ولرئ، څه باید وکړئ؟
الف) خپله یې وکیندئ   ب) له سیمې لرې شئ او مسوولو ادارو/ماین‌پاکۍ ته خبر ورکړئ   ج) ماشومان ور واستوئ   د) په پښو یې ووهئ

31. کومه کړنه د ماین له خطره ساتنه کوي؟
الف) نامعلوم شیان راټولول   ب) له نښه شوو او خوندي لارو تګ   ج) د جګړې سیمو ته تفریح د) د فلزي شیانو سره لوبې

32. د پرسونل ضد ماینونه له کومو موادو جوړېدای شي؟
الف) یوازې له مرمرو   ب) فلز، پلاستیک او لرګي   ج) شګه او اوبه
د) یخ

33. د ماین پاکولو اجازه چا ته ده؟
الف) هر عام کس ته   ب) یوازې روزل شویو متخصصینو/ماین‌پاکانو ته
ج) زده کوونکو ته   د) د بزګرانو ډلې ته

34. د ماینونو د مخنیوي یوه مهمه لاره کومه ده؟
الف) پوهاوی او خلکو ته د خطر خبرول   ب) د ماینونو پټول   ج) ماشومانو ته فلزي کشف‌کوونکي ورکول   د) د خطر نښو ماته کول\

35. .ولسي ادب څه ته وايي؟
الف) هغه ادب چې د خلکو له خولې راټوکېږي او له نسله تر نسله لېږدېږي   ب) یوازې رسمي او درسي کتابونه ج) یوازې درباري شعرونه
د) هغه ادب چې تل لیکوال ولري

36. ولې ولسي ادب ته شفاهي ادب هم وايي؟
الف) ځکه چې په شفاهي توګه انتقالېږي   ب) ځکه چې بې‌له قافیې وي ج) ځکه چې یوازې ماشومان یې وايي
د) ځکه چې د ښارونو ادب دی

37. ولسي ادب ته فولکلوري ادب هم ځکه ویل کېږي چې:-
الف) د ولس دود، فرهنګ او باورونه پکې انځورېږي   ب) یوازې د یو شاعر الهام وي   ج) له بهرنیو ژبو ژباړل شوی وي
د) یوازې په راډیو کې اورېدل کېږي

38. د ولسي ادب د لیکوال په اړه کومه خبره سمه ده؟
الف) اکثره لیکوال یې نامعلوم او د خلکو ګډ کار وي   ب) تل یو مشهور شاعر یې لیکوال وي ج) د سرپاڼې په منځ کې نوم لیکل کېږي
د) یوازې ښځې یې جوړوي

39. د ولسي ادب د انتقال اصلي لاره کومه ده؟
الف) له خولې نه خولې ته، په مجلسونو او رسمونو کې   ب) یوازې د چاپ له لارې   ج) یوازې د ټولنیزو شبکو له لارې
د) یوازې د ښوونځې له لارې

40. ولسي ادب عموماً څه انځوروي؟
الف) د ولس احساسات، سوچونه، دودونه او ورځنی ژوند
ب) د شاهي ماڼۍ پېښې   ج) علمي څېړنې
د) بهرني کلتورونه

41. ژبه او سبک په ولسي ادب کې څنګه وي؟
الف) ساده او عام‌فهم   ب) ډېر پېچلې   ج) یوازې عربي توري لري
د) تل له غلطیو ډک

42. د ولسي ادب یوه مهمه ګټه دا ده چې:
الف) د تاریخ او دودونو ژوندۍ خزانه ساتي   ب) خلک له خپلې ټولنې لرې کوي   ج) یوازې تفریح برابروي
د) رسمي ادب کمزوری کوي

# سوالات پشتو  صنف نهم امتحان دوره دهم

43. کوم ځایونه د ولسي ادب د زېږون او خپرېدو معمول ځایونه دي؟
الف) کورونه، ودونه، میلمستیاوې او کارځایونه    ب) پوازې پوهنتونونه    ج) کتابتونونه    د) دفترونه

44. د ولسي ادب په وده کې د کومو کسانو رول ډېر وي؟
الف) میندې، سپینږیري او سندریز خلک    ب) یوازې لیکوال اتحادیه    ج) تلویزیون    د) ورزشکاران

45. ولسي ادب په څو لویو څانګو وېشل کېږي؟
الف) منظوم او منثور    ب) تاریخي او جغرافیایي    ج) علمي او تخیلي    د) رسمي او غیررسمي

46. منظوم ولسي ادب کومه ځانګړنه لري؟
الف) وزن او آهنګ/قافیه لري    ب) هېڅ قافیه نه لري    ج) یوازې نثري جملې لري    د) تل ډېر اوږد وي

47. ۱۳ .منثور ولسي ادب کوم څه نه لري؟
الف) وزن او قافیه    ب) احساس    ج) پیغام    د) کیسه‌والی

48. لاندې کومه بېلګه د منظوم ولسي ادب ده؟
الف) لنډۍ/ټپه    ب) متل    ج) کیسه    د) حکایت

49. ۱۵ .لاندې کومه بېلګه هم منظوم ولسي ادب شمېرل کېږي؟
الف) چاربیته    ب) لطیفه    ج) معما    د) افسانه

50. لاندې کومه بېلګه د منثور ولسي ادب ده؟
الف) متلونه    ب) بدله    ج) واده سندرې    د) چاربیته

51. د منثور ولسي ادب له مشهور فورمونو څخه کوم یو دی؟
الف) کیسه/حکایت    ب) لنډۍ    ج) د کار سندرې    د) چاربیته

52. هغه سندرې چې د ودونو، کار او رسمونو سره تړلې وي، تر ډېره د کومې څانګې برخه دي؟
الف) منظوم ولسي ادب    ب) منثور ولسي ادب    ج) علمي ادب    د) د ماشومانو نثر

53. کومه فورمه عموماً د ژوند تجربې او نصیحت لنډوي؟
الف) متل    ب) لنډۍ    ج) چاربیته    د) کیسه

54. د ولسي ادب راټولول ولې مهم دي؟
الف) د فرهنګي هویت او تاریخ ساتنې لپاره    ب) یوازې د ازموینې لپاره    ج) ځکه ادبیات بې‌معنا کېږي    د) د رسمي ادب ځای نیسي

55. ننګرهار د افغانستان په کوم لور کې پروت دی؟
الف) لوېدیځ    ب) سوېل    ج) ختیځ    د) شمال

56. د ننګرهار ولایت مرکز کوم ښار دی؟
الف) هرات    ب) کندهار    ج) جلال آباد    د) مزار شریف

57. د کابل او جلال آباد تر منځ شاوخوا څومره واټن دی؟
الف) ۷۰ کیلومتره    ب) ۱۴۸ کیلومتره    ج) ۲۵۰ کیلومتره    د) ۳۵۰ کیلومتره

58. کوم سوداګریز بندر د ننګرهار له لارې له پاکستان سره نښلي؟
الف) اسلام قلعه    ب) سپین بولدک    ج) تورخم    د) شیرخان بندر

59. له کوم سینده د ننګرهار له سیمو تېرېږي؟
الف) آمو    ب) کنړ سیند    ج) هلمند    د) مرغاب

60. د ننګرهار د هوا ځانګړنه عموماً څه ده؟
الف) ډېره سړه    ب) نسبتاً ګرمه او معتدله    ج) تل واورینه    د) ډېره لمده

61. جلال آباد د کوم باغدارۍ/حاصلاتو له کبله مشهور دی؟
الف) زعفران    ب) مالټې او نارنجونه    ج) پېسته    د) جوار

62. د ننګرهار له سیاحتي ځایونو څخه یو مشهور ځای کوم دی؟
الف) بند امیر    ب) درونټه بند    ج) منارِ جام    د) شیر دروازه

63. کومه لویه لار د ننګرهار له لارې تېرېږي؟
الف) کابل–قندهار لویه لاره    ب) کابل–مزار لویه لاره    ج) کابل–جلال آباد–تورخم لویه لاره    د) هرات–اسلام قلعه لویه لاره

# سوالات پشتو صنف نهم امتحان دوره دهم

64. د ننګرهار له لوړو سیمو/غرونو کوم یو یادېږي؟
الف) سپین غر ب) کوه بابا ج) سلیمان غر د) تیاره غر

65. قید څه ته وایي؟
الف) هغه کلمه/ترکیب چې د فعل وخت، ځای، څرنګوالی یا اندازه څرګندوي
ب) هغه کلمه چې د نوم صفت جوړوي ج) هغه کلمه چې یوازې جمله پای ته رسوي د) یوازې د حرف اضافه نوم

66. قیدونه په کومو دوو لویو ډلو وېشل کېږي؟
الف) اصلي او غیر اصلي ب) فعلي او اسمي ج) معلوم او مجهول د) لازم او متعدي

67. کومه ډله د زمان قیدونه دي؟
الف) نن، پرون، سبا ب) دلته، هلته، پورته ج) ژر، ورو، په چټکۍ د) ډېر، لږ، دومره

68. کومه ډله د مکان/ځای قیدونه دي؟
الف) دلته، هلته، بهر، کور ته ب) نن، پرون، سبا ج) ډېر، لږ، بېخي د) په مینه، په چټکۍ

69. کومه ډله د څرنګوالي قیدونه دي؟
الف) ژر، ورو، په چټکۍ، په خوښۍ ب) دلته، هلته، شاته ج) نن، پرون، سبا
د) لس، شل، ډېر

70. کومه ډله د اندازې/درجې قیدونه دي؟
الف) ډېر، لږ، بېخي، دومره ب) دلته، هلته، کور ته ج) نن، پرون، سبا
د) ژر، په چټکۍ

71. په دې جمله کې څو قیدونه شته؟ ( زده کوونکی نن په چټکۍ کور ته ولاړ.)
الف) یو ب) دوه ج) درې
د) څلور

72. لاندې کوم یو اصلي قید نه دی؟
الف) نن ب) دلته ج) په چټکۍ د) ښکلی

73. ۹ .غیر اصلي قید څه ته وایي؟
الف) هغه کلمه چې قافیه ولري ب) یوازې د شمېر کلمې ج) یوازې د زمان قیدونه د) هغه عبارتونه/ترکیبونه چې د فعل لپاره د ځای، وخت او نورو معناوې څرګندوي، لکه: په باغ کې، د سهار له خوا

74. کومه بېلګه غیر اصلي قید ده؟
الف) نن ب) ژر ج) دلته د) په بازار کې

75. په خبرو اترو کې دوه کسان څوک دي؟
الف) احمد او حامد ب) شکیلا او لیلا ج) جان محمد او ایمل د) بلال او رحیم

76. رنګونه په کومو دوو ډولونو وېشل شوي دي؟
الف) قوي او کمزوري ب) طبیعي او مصنوعي ج) زاړه او نوې د) رڼا او تیاره

77. لاندې کومه بېلګه د طبیعي رنګ ده؟
الف) د دیوال رنګمالی ب) د اسمان شین رنګ ج) د فابریکې رنګ د) د موټر رنګ

78. لاندې کومه بېلګه د مصنوعي رنګ ده؟
الف) د ونو پاڼې شینوالی ب) د ګل پاڼې رنګ ج) د کالیو/پوښاک رنګ د) د سمندر نیلاوالی

79. کوم رنګونه د تاودو (ګرم) رنګونو ډلې ته شمېرل کېږي؟
الف) سور، نارنجي، ژېړ ب) شین، نیلي، بنفشي ج) سپین، خړ، نسواري د) تور، نصواري، زرغون

80. کوم رنګونه د سوړو/ارام رنګونو ډلې ته داخل دي؟
الف) سور، نارنجي، ژېړ ب) شین، نیلي (آبي)، بنفشي ج) تور، سپین، خړ د) سره، زرغون، نسواري

81. رنګونه پر انسان څه اغېز کوي؟
الف) هېڅ اغېز نه لري ب) یوازې عمر زیاتوي ج) د احساساتو او مزاج اغېزمنوي د) لوږه زیاتوي

82. د طبیعي رنګ یوه سرچینه کومه ده؟
الف) ګلان او بوټي ب) پلاستیک ج) فلزي رنګ د) بوتل رنګ

83. د مصنوعي رنګونو یوه مهمه ګټه څه ده؟
الف) شیان بدرنګه کوي ب) په هنر او صنعت کې د ښکلا او څرګندون سبب ګرځي ج) طبیعت له منځه وړي د) رڼا کموي

84. نازو انا د چا مور وه؟
الف) احمدشاه بابا ب) میرویس خان (نیکه) ج) دوست محمد خان د) امیر شېرعلي خان

85. نازو انا د کومې قبیلې وه؟
الف) بارکزی ب) توخی (غلجایي) ج) محمدزی د) نورزي

86. د نازو انا مهمې ځانګړنې کومې وې؟

# سوالات پشتو  صنف نهم امتحان دوره دهم

الف) یوازې شتمنه وه      ب) لوستلې، دینداره او زړوره ښځه وه      ج) پوځی منصب درلود

د) سوداګره وه

87. د نازو انا د زیږېدو ځای په متن کې څه یاد شوی؟

الف) کابل      ب) کلات (زابل/غلجایي)      ج) هرات      د) بدخشان

88. د نازو انا د زیږېدو کال سرچینې شاوخوا څو ښيي؟

الف) ۱۲۴۰ هـ ق      ب) ۱۰۶۱ هـ ق      ج) ۹۷۰ هـ ق      د) ۱۲۰۰ هـ ق

89. نازو انا په کومو ډګرونو کې شهرت لري؟

الف) فزیک او کیمیا      ب) ادب، تاریخ او سیاست      ج) موسیقي      د) سوداګري

90. په هغه زمانه کې د صفوي دولت پاچا څوک و چې په متن کې یاد شوی؟

الف) شاه عباس کبیر      ب) شاه سلطان حسین      ج) نادر افشار      د) کریم خان زند

91. کوم ګرجستانی قوماندان په کندهار کې د صفویانو استازی و؟

الف) نصرالله خان      ب) ګورګین خان      ج) لطیف خان      د) زمان خان

92. میرویس خان د چارې د سنجولو لپاره کوم ښار ته ولاړ؟

الف) تهران      ب) اصفهان      ج) مشهد      د) تبریز

93. د نازو انا د شعر او وینااو بنسټیز پیغام څه و؟

الف) بې‌پروایي او خوشې ژوند      ب) اتحاد، غیرت او عدالت، د وطن ازادي      ج) یوازې مالدار کېدل

د) سفرونه او سیاحت

94. د ازادۍ اصلي موخه څه ښودل شوې؟

الف) یوازې تفریح      ب) د انسان کرامت او د ملت پرمختګ      ج) جنګي ځواک

د) د مال ډېرول

95. له ازادۍ پرته کوم حالت رامنځته کېږي؟

الف) خلک ډېر شتمن کېږي      ب) پرمختګ ټکني کېږي او سپکاوی رامنځته کېږي

ج) ټولنه بسیا کېږي      د) تعلیم ډېرېږي

96. ازادي له کومو شیانو سره تړلې ښودل شوې؟

الف) بې‌قیدي      ب) قانون او مسؤولیت      ج) زورواکي      د). هیجان

97. د ازادۍ ساتنه څنګه ممکنه ده؟

الف) په سستي او تمبلی      ب) په علم، یووالي او قربانۍ      ج) یوازې په شعار      د) په بې‌پروایي

98. د نور د ازادۍ درناوی څه معنی لري؟

الف) د نورو حقونو ته نه پاملرن      ب) د خپل عمل پر مهال د نورو حقونه نه ماتول      ج) تل چوپ پاتې کېدل

د) یوازې خپل فکر ته کار کول

99. کومې کړنې د ازادۍ ضد بلل شوې؟

الف) عدالت او مهرباني      ب) ظلم، استبداد او زورواکي      ج) تعلیم او کار      د) مینه او تفاهم

100. ازادي د فردي ګټې تر څنګ څه ده؟

الف) یوازې شخصي شوق      ب) ګډه ټولنیزه او ملي ارزښت      ج) اقتصادي پروژه      د) سیاسي شعار